شهسوارسنګروال
۲۰۲۵/۱۰/۰۴

# میرویس نیکه،خپلواک که تولواک؟

## ۴مه برخه

شاه اشرف هوتک،
څرنګه واک ته ورسېد ؟

شاه محمود هوتک چې د افغان جنګیالیو پر مټ واک ته ورسېد او په اصفهان کې د پاچاهي تاج په سر کړ، شاوخوا درې کاله یې پاچاهي وکړه او دده د تولواکمنۍ څو موهمې پېښې دا وې:

۱--- محمود خپل نامتو قومندان امان الله خان دېته وګماره، چې د اصفهان ښار او شاوخوا سیمې د خپلې واکمنۍ لاندې راولي او بیا یې نصر الله خان قزوین لور ته واستوه.

۲ --- امان الله خان چې اصفهان تصفیه کړ نو بیا محمود دي دېته وګماره چې له اته زره (۸۰۰۰) سپرو سره قزوین ته لاړ شي. خو هلته د یوې خونړۍ پېښې په ترڅ کې اوه زره (۷۰۰۰) افغان سرتېري ووژل شول او پخپله امان الله زخمي شو. ولې د محمود له خوا د وژل شوو افغانانو د وینو په بدل کې اصفهان کې شمېر قزلباشان له مینځه یووړل شول.

۳ --- د محمود په امر ډېرې خزانې راټولې شوې، افغان ځواکونو ته یې ډېر عزت ورکړ ان تر دې چې ده امر وکړ د اصفهان خلک که غواړي له افغانانو سره وګورې باید ودرېږي او لاس په سینه کېږدی ... پاچا به د شپې له خوا د خپلو سرتېرو لیدنې ته ورته او ګزمه به یې کوله .

۴- محمود چې ځان په اصفهان کې ځواکمن کړ، نو بیا یې وپتیله چې د خپل واک او ځواک لمن نورو سیمو او ښارونو ته وغځوي. نو ځکه یې د خپلو ځواکونو په ورتیا باور درلود، هغوئ ته یې سپارښتنه وکړه، چې د قزلباشانو یو مرکز «کز» چې اصفهان ته په څو کیلو متري کې موقعیت درلود کلابند کړي.

قزلباشانو د سولې وړاندیز وکړ او هغه غلې دانې او نور توکي چې زخیره کړي ول ترې ونیول بیا یې اصفهان ته راولېږدول او له دې سربېره یې په «بني اصفهان» کې لطف علي خان ونیو او لاس تړلی یې شاه محمود ته راواستاوه.

۵- محمود د نصر الله خان په ګډون یو شمېر افغان مشران د یوه لښکر په ملتیا شیراز ته واستول. نصر الله خان یو میړنی جنګیالی وه، چېرته به چې افغانانو ته کومه امنیتي ستونزه پیدا شوه، دی به له خپلو جنګیالیو سره ورغی او هغه خلک به یې ایل اوتابع کړل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چېرته چي قزلباشانو سرپورته کړ، نو بیا به نصر الله خان چي د «ایل دام خان» لقب یي خپل کړی وه ورواستول شو او هغوئ به یي وځپل.

ده د همدې اتلولی له مخې په شیراز برید وکړ، دا چي دی به تل د لښکر په سر کي روان وه، د دښمن په ګولی ولیګید او ساه یي ورکړه.

محمود دده په مرګ دومره خواشینی شو، چي ډېر ژر یي د هغه پر ځای «زبردست خان» وګماره، چي دده تشه ډکه کړي، ولي بیا هم د شیراز په نیولو بریالي نه شول.

شیراز خان یو مدبر هوښیار سړی وه، اته میاشتې یي خپله سیمه وساتله، خو هغه ځواکونه چي د عبد الباقی خان په مشری دده مرستې ته په لاره وه، د افغانانو له برید سره مخ شول، مرګونی ګوزار یي پرې وکړ، نه یوازې قزلباشان ووژل شول پخپله عبد الباقي هم د جګړې په ډګر کي له مینځه لاړ.

۶- له دې وروسته افغان ځواکونو یو د بل پسې «ګلپایګان»، کاشان او یو شمېر نوری سیمي ونیولې ، ولي کومه پېښه چي شاه محمود هوتک ته خواشینونکی وه، هغه د «کز» په سیمه کي ددوه (۲۰۰۰) زرو افغان کورنیو په کاروان برید وو، چي ډېرو ته یي مرګ ژوبله هم واړوله.

محمود هوتک د هغو د ځپلو لپاره ورغی، ولي ماته وخوړه نه یوازې بیرته اصفهان ته راستون شو، بلکي له یوې سختې دماغي ناروغی سره مخ شو، ان د ده هغه یواځنی میرمن چي د صفوی شاه حسین لور کېده او ډېره پرې ګرانه هم وه (او له هغی څخه یو زوې هم درلود) دده په دې ناروغی ډېره خپه شوه.

۷- له دا ډول پرلپسې پېښو وروسته هره ورځ د شهنشاه ستونزې زیاتېدې دی درې کالو په شاوخوا کي (۱۷۲۲-۱۷۲۵ز) د ایران پاچا وه. په لومړي سر کي یو مینځمهاله ځواکمن واکمن وه، چي په پریکړې او سپارښتنې د شرعیت په رڼا کي تر سره کېدی. له خلکو سره یي په ډېره مینه چلن کاوه، هغوئ یي له ولړې او تندې وژغورل.

کله چي له ماتې وروسته اصفهان ته راستون شو دا دده یوه اندېښنه ، د امان الله زخمي کېدل ده ته یو بل رواني ګواښ وه چي بیا ده د درې سوه(۳۰۰) تنو په شاوخوا کي د انتقام له مخی د اصفهان وزیران او سرداران ووژل ، دده او د امان الله خان تر مینځ خوابدي دده په مغزو یو بل فشار وه، سره ددې چي هغه یي پخلا کړ.

د کروسنسکي په وینا هغه لومړنی کاروان، چي له دېرش (۳۰) زره اوښان ورسره مل وه تر درې میاشتو مزل وروسته اصفهان ته دننه شول درې زره اوښان پاتې وه، چي په هغه کي د محمود مور هم وه ، دې پېښې هم په ده ډېره بده اغیزه وکړه.

۸- «یو د بل پسی دغه اندېښني دومره زر مینځته راغلي، چي محمود یي د خلکو په مینځ کي ډېر بې باوره کړ او لا کله چي خبر شو چي د محمد قلي خان ورور هم د قزوین په پاڅون کي لاس درلود، ډېر خپه شو.

د دغو ستونزو د حل لپاره څلوېښت (۴۰) ورځي اعتکاف وکړ، نه یي څه خوړل او نه یي څښل او نه یي هم له چا سره خبرې کولي ... په دې سره دده روغتیا نوره هم خرابه شوه.»[۱]

ده له دې سربیره داسي ریوتونه هم ترلاسه کړل، هغه خزانه چي له اصفهان نه کندهار ته په لاره وه چور شوېده او د خزانې لوټ ده ته نوره اندېښنه زیاته کړه.

۹- په «کز» کي د دوه زره افغان کډوالو یرغمل، د محمود له خوا د صفوي شاه حسین د اولادونو او خپلوانو وژل، د افغان جنګیالیو د مشر سید علي خان ماته، چي د طهماسب له وېرې اصفهان ته پر شا شو، په دې سره د دې اندېښني زیاتی شوی.

د لارنس لکهارت، کروسنسکی او د نورو تاریخپوهانو د څرګندونو پر بنسټ روان کړکېچ د شاه محمود هوتک په اعصابو لا ډېره بده اغیزه وکړه او په پای کي ناروغي دې کچې ته ورسېده، چي دده په کړو وړو نور افغانان شرمېدل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د محمود په بدن کې داسي ټپونه او زخمونه پیدا شول، چې د هغه وخت طبیبان یې له علاجه عاجز پاتې شول.

په اصفهان کې یو شمېر مېشتو افغان سردارانو هیله وښوده، چې د ده ورور شاه حسین هوتک له کندهار څخه راوغواړي، خو دا چې لاره ډېره اوږده وه، مناسب ونه ګڼل شو، بیا خلکو دده د تره زوی میر شاه اشرف د سلطنت لپاره غوره کړ. نو د اپریل په ۲۲ مه (۱۷۲۵ ز) امان الله خان له څو تنو سره اشرف خان له زندان نه راوویست او د «۸۰۰» تنو په شاوخوا کې وسله والو په سلطنتي ماڼۍ برید وکړ، محمود یې ونیو او بیا یې زندان ته واچوه. «اشرف د هغه پرځای کیناست او د محمود پنځه سوه شاوخوا ساتوونکي ووژل.»[۲]

شاه اشرف په ډېرې هوښیارۍ او زړورتیا د کورنیو او بهرنیو دښمنانو پر وړاندې ودرید. د کروسنسکي په وینا دی هم د محمود غوندې یو زړور جنګیالی و، خو تر هغه یې تجربه اوځیرکتیا ډېره وه.

که څه هم دی او شاه محمود هوتک همزولي وو، ولې د محمود د وخت تجربې ورته ډېر څه زده کړي ول او د هغه د تېروتنو بیا غبرګه ول یې نه غوښتل او په ډېرې ځیرکتیا او وړتیا یې ګامونه پورته کول.

شاه اشرف په سرکې د اصفهان دننه کورنیو چارو ته ډېره پاملرنه وکړه او وې پتیله، چې د صفوي شاه حسین زوی طهماسب، څرنګه د عثماني ترکیې او روسیې له غېږې نه لرې کړي، نو ځکه ده له پخواني پاچا شاه حسین سره ولیدل، لومړی یې هغه ته د هغې سترې غمیزې له امله، چې دده د کورنۍ یو شمېر غړي د شاه محمود هوتک له خوا ووژل شول تسلیت ورکړ او هغه یې ځغم ته راوبوله او ډاډ یې ورکړ، چې ما د خپل تره زوی محمود په څېر ونه ګڼې اوبیا یې د هغه د کورنۍ وژل شوی غړي له افغاني دود سره سم په «قم» کې خاورو وسپارل .

بله ورځ یې د لیدلو په ترڅ کې ورته وړاندیز وکړ، چې د سلطنت چارې په غاړه واخلي. «سرجان ملکم» هم ددې خبرې پخلی کړیدی، چې شاه اشرف له هغه څخه وغوښتل چې بېرته خپل تخت ته راوګرځي. خو هغه ورته وویل، که ما د سلطنت وړتیا درلودی، نو خدای به لما نه تاج و تخت نه اخسته او ټینګار یې وکړ، چې زما د کورنۍ پاتې غړو ته باید پاملرنه وشي ، ما له حکومت څخه لاس وینځلی دی، غواړم پاتې عمر په خلوت کې تیر کړم، زه ناپېیلی مینځمهاله انسان یم او تاسو ته به د بري دوعا وکووم، نو بیا یې خپله یوه بله لور ده ته په نکاح کړه.

شاه اشرف هوتک د خپل واک او ځواک په سر کې چې له کومو کورنیو او بهرنیو ګواښونو او ستونزو سره مخ شوی، څو بېلګې دا دي:

۱ـ شاه اشرف هوتک ته وویل شو، چې ګڼې امان الله خان غواړي له شهزاده طهماسب سره، چې په دغه وخت کې اذربایجان کې وه لاس یو کړي او تاسو له مینځه یوسي.

امان الله خان یو وخت له شاه محمود هوتک نه هم مرور شوی وه او غوښتل یې کندهار ته لاړ شي، خو محمود هغه بېرته پخلا کړ او خپل صدر اعظم وټاکه.

ولې شاه اشرف ته چې کومه اطلاعیه رسېدلې وه، چې د یوه لیک په ترڅ کې طهماسب ته د اصفهان د نیولو بلنه ورکړېده، نو هغه هم په بېړه نوموړی له خپلو نږدې ملګرو سره وواژه او بیا یې د ټولو ځواکونو مشر او سپه سالار سیدال خان ناصر وټاکه.

۲- د شاه اشرف هوتک بله ستره کورنۍ ستونزه دا وه، ده دومره ځواکمنتیا نه درلوده، چې له کورني او بهرني دښمن سره وجنګېږي، ددې لامل دا وه، چې کندهار پاچا شاه حسین نه یوازې له ده سره مرسته ونه کړه، بلکې د خپل ورور د کسات او انتقام اخستو فکر یې هم درلود.

هغه مهال به چې د هند په لودیانو او یا سوریانو (بهلول---شېر شاه) دښمنانو برید وکړ، نو دوئ به له افغانستانه جنګیالي وغوښتل ولې په شاه اشرف دغه لاره د کندهار لخوا بنده شوه او د هرات ابدالیان هم له یوې خوا پخپلو کې اخته ول او له بلې خوا د نادر افشار تر بریدونو لاندې ول.

۳- د اشرف خان هوتک د کور دننه یو بل ستر دښمن پخپله نادر افشار وه. دی نه یوازې د هرات د ابدالیانو پر وړاندې جنګېده، بلکې له شاه طهماسب سره یو ځای د شاه اشرف هوتک پر وړاندې هم جګړه کوله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

وليعهد طهماسب د يوه ستر بريد په ترڅ کې مازندران ته راورسېد، ولې لوی درستيز سيدال خان ناصر ورغی، نه يوازې د هغه جنګياليو ته يې سخته ماته ورکړه، بلکې «قزوين» يې هم ونيوه.

کله چې وليعهد د خپلو خلکو له ملا تړ نه نهيلی شو، نو بيا يې بهرنيو هېوادونو ته مخه کړه، چې د شهينشاه شاه اشرف هوتک پر وړاندې بهرنی ملاتړ تر لاسه کړي.

۴- دلته دی چې شاه اشرف هوتک له بهرني دښمن سره لاس و ګريوان شو. طهماسب د عثماني ترکې په مرسته د هېواد لويديځ همدان، ايروان او تبريز لاندې کړ، ولې د تبريز خلکو په پوره مېړانې له خپلې خاورې دفاع وکړه او د ترکې، پوځ ته يې ماته ورکړه.

۵- هغه مهال چې ترکانو ماته وخوړه، نو بيا يې له روسانو سره يو ځای پرېکړه وکړه، چې په ګډه د هوتکي شاه اشرف د حکومت پر وړاندې ودرېږي او دغه هېواد پخپلو کې ووېشي.

د روسې له هېواد سره وليعهد طهماسب ژمنه وکړه، که چېرې د شاه اشرف ځواکونه مات شي نو د خپل هېواد يوه ټوټه ځمکه به روسی ته پرېږدي. هماغه وه چې په ۱۷۲۳ ز د سپتمبر په ۱۲ مې نېټې د اسماعيل بيګ په استازيتوب د پترو ګراد په پلاز کې لومړنی تړون د دواړو غاړو تر مينځ لاسليک شو، چې د تړون مينځپانګې ځوټکي داسې وو :

« دخزر د سمندرګي شاوخوا سيمي لکه بادکو او يو شمېر ښارونه، ګيلان، مازندران او استراباد به، پتر کبير د روسي ټولواک ته پرېږدي.»[۳]

۶- ترکيې او روسې، له دې تړون نه يو کال وروسته د جولای په اتمی (۸ نېټی ۱۷۲۴ ز) يو تړون لاسليک کړ، چې روسې له کېکاس نه تر بادکو پورې سيمو کې خپل پوځونه ځای پر ځای کړل.

عثمانی ترکې هم د ايران لويديځ ته خپل ځواکونه راواستول او په داسې حال کې چې شاه اشرف هوتک نه سمندري ځواک درلود او نه هم دومره ځواکمن وه، چې له دوه سترو هېوادونو سره مقابله وکړي. دده د واک او ځواک په ختيځ سيستان کې محمود سيستاني واک درلود، چې نشو کولی د افغانستان له هېواد نه جنګيالي اصفهان ته راورسوي.

خو يو ناڅاپه ده خبر ترلاسه کړ چې د روسې امپراتور پتر کبير (۱۷۲۵ ز) کې ومړ او له هغه وروسته د هغه ځای ناستې دا وس نه درلود چې د هغه نخشه عملي کړي، نو خپل ځواکونه يې له ګيلان او مازندران ووېستل.

په دغه ترڅ کې د عثماني ترکې يو والي حسن پاشا هم ساه ورکړه او پر ځای زوی احمد پاشا د بغداد والي وټاکل شو. ده نه يوازې په کرمان قناعت ونه کړ، بلکې اصفهان لور ته يې خپل جنګيالي واستول. د اصفهان خلک چې په مذهبي لحاظ له ترکانو سره جوړ نه ول، نو د هوتکيانو په ملاتړ يې پاڅون وکړ او په دغه بريد کې د موصل والي حسين او جنرال عبد الرحمن هم له احمد پاشا سره مل ول.

په «جهانګشای نادري» کې راغلي دي، چې شاه اشرف دروغي جوړې لپاره د عبد العزيز په نوم خپل استازی واستوو، خو دا چې ترکانو اويا (۷۰) توپونه او شپېته(۶۰) زره پوځ درلود، د هغه وړانديز يې ونه مانه او ګواښ يې وکړ، چې شاه اشرف بايد اصفهان پرېږدي او خپل پلرني ټاټوبي کندهار ته لاړ شي.

ولې شاه اشرف د دېرش زرو (۳۰ زرو) ځواکونو سره ورغی او په ۱۷۲۶ ز کال د نوامبر په اتمه (۸) نېټه د اصفهان او همدان تر مينځ سخته جګړه ونښته او د ترکانو شاوخوا دولس (۱۲) زره جنګيالي ووژل شول. هغه څلور ديني عالمان چې د شاه اشرف په سپارښتنه، د ترکانو پوځې چونې ته ننوتل او روانه جګړه يې د دوه مسلمانانو ځواکونو تر مينځ نا روا وبلله ... د همدې تکتيک له مخې د هغو سپکه او درنه وسله يې هم تري لاندې کړه، چې په دې کې د ترکانو پنځوس (۵۰) توپونه هم شامل وه او پاچا د نوامبر په ۱۷ مه په برې سره راستون شو.

ترکانو چې د هوتکيانو جګړه ييزه ځواکمنتيا او د علماو تبليغ وليده، د اکتوبر په ۱۳ مه نېټه يې (۱۷۲۵ ز) يوه تړون ته غاړه کېښود، چې په همدان کې د دواړو غاړو استازو له خوا چې ۱۲ مادې درلودې لاسليک شو.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ددغه تړون له مخې کردستان، لرستان او خوزستان د حایل سیمې په نوم وپیژندل شوې، چې په خطبه کې به لومړی د عثماني ترکي د خلیفه نوم اخستل کېږي او بیا به ورپسې د اصفهان د پاچا شاه اشرف هوتک نوم زکر کیږي. نامتو تاریخپوه «هانوي» هم د دې خبرې پخلی کړیدی، چې «د جمعې په لمانځه کې به چې کله خطبه لوستل کېده لومړی به د اسلام د خلیفه نوم او بیا به د هوتکي شاه اشرف نوم یادېده، خو سکه د شاه اشرف په نوم ووهل شوه.»[۳]

په خطبه کې د اسلام د خلیفه نوم یادول له پخوا نه یو دیني او مذهبي دود وه، هغه وخت چې د اسلام د خلافت مرکز بغداد وه هم په یو شمېر اسلامي هېوادونو کې، چې بشپړ سیاسي واک او ځواک به یې هم درلود د اسلام د خلیفه نوم په خطبه کې اخستل کېده.

دلته شهینشاه شاه اشرف هوتک هم، پداسې حال کې چې جګړه یې ګټلې وه، دا ومنله چې د عثماني ترکې سره ښې اړیکې ولري نو د خلیفه نوم به یادیږي، د دې په څنګ کې شاه اشرف نور داخلی او بهرني دښمنان هم درلودل، چې موږ نادر افشار صفی او سلطان محمد د ساري په توګه یادولی شو،نو ځکه خو ټولواک هوتکي شاه اشرف نه غوښتل چې په څو جبهو کې وجنګیږي.

نو بیا د عثماني دولت مشر دریم سلطان احمد خان له خوا د شاه اشرف سلطنت په رسیمت وپیژندل شو او «راشد پاشا» یې د سفیر په توګه اصفهان ته واستوو، چې بیا شاه اشرف هم محمد خان بلوچ د خپل استازي په توګه استانبول ته ولیږه او یو ۱۲ فقریزه تړون د دواړو هېوادو تر مینځ لاسلیک شو.

شاه اشرف تر ډېره بریده د عثماني ترکیې او روسې له ګواښ نه وژغورل شو او حال دا چې تزاري روسي د پتر کبیر په مهال، چې غوښته یې د هند سمندر ته ځان ورسوي او دا داسې مهال دي، چې بریتاني په هند کې خپل واک او ځواک ته پراختیا ورکړې وه، یاني د شرق الهند کمپنی (تاسیس ۱۶۰۰ ز کال) اوس یوازې سوداګریز دریځ نه درلود، بلکې سیاسي او پوځي ځواک ته یې هم لاره اواره کړې وه.

نو ځکه خو پتر لومړی یو پلاوی په ۱۷۱۴ ز کال مینځنی اسیا او په ۱۷۱۵ ز یې خزر سمندرګي ته واستوو، چې له کومې لارې کولی شي هند ته ځواکونه واستوي؟

هغه مهال چې په ۱۷۲۲ ز کال شاه محمود هوتک اصفهان ونیو، پتر غوښتل چې له یو ستر پوځ سره کېکاس ته ځان ورسوي او په همدې هوډ یې «بادکو» لاندې کړ.

ولې د روسي ټولواک په ۱۷۲۵ ز کال ومړ او ټولې نخشې په اوبو لاهو شوې ، خو بیا هم اشرف هوتک دومره پوځي ځواک نه درلود، چې روسان د کېکاس له ټولو سیمو نه وباسي او د سپه سالارسیدال خان ناصري ټپی کېدل هم د ځغم وړ نه وو، ولې بیا هم د افغان جنرال سیدال ناصري او جنرال «لواشف» تر مینځ «رشت» کې په ۱۷۲۹ کال د فبروري په ۲۴ مه یو تړون لاسلیک شو، چې له بابته یې افغان ځواکونه له هغو سیمو تیر شول، چې صفوي طهماسب او د هغه استازي اسماعیل بیګ روسي هېواد ته سپارلی وې .

ددغه تړون په لاسلیک کې د فرانسې دریځ د پام وړ ځکه وه چې د دوئ اصلي دښمن بریتانیا وه، هماغه وه چې دویم پتر له شاه اشرف سره نږدې شو لکه څرنګه چې د عثماني ترکې دریم سلطان احمد د شاه اشرف سلطنت د یوه تړون په ترڅ کې په رسمیت وپېژند، دارنګه روسي هېواد هم د یاد تړون پر بنسټ د شهینشاه هوتک حکومت په رسمیت وپېژند.

خو بیا هم د شاه اشرف هوتک واک او ځواک د هېواد په شمال کې د روسانو، په لویدیځ کې د عثماني ترکانو، په لویدیځ خراسان کې د صفوي طهماسب ګواښونو شتون درلود. ولې بیا هم د ایران موهمې سیمې لکه اصفهان، تهران، شیراز، قزوین، کرمان او د سیستان لورته یو شمېر سیمې د شاه اشرف هوتک د سلطنت برخې وې.

د شاه اشرف هوتک د ماتې لاملونه
سره د دې چې د شاه اشرف پر وړاندې کورني او بهرني دښمنان په بشپړه توګه له مینځه نه وه تللي، ولې بیا هم د اوسني ایران غوښنې او موهمې سیمې او ښارونه د هوتکي شهینشاه په واک کې ول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا چي شاه اشرف ولي له ماتي سره مخ شو او سياسي واک او ځواک يي له لاسه ورکړ، څو لاملونه يې داسي ول:

۱ـ تر هغه مهال چي صفوي شاه حسين ژوندی وه، طهماسب د يوه وليعهد په توګه فعاليت کاوه، خو کله چي پلار ومړ نو بيا يې د سلطنت اعلان وکړ او ځان يې د صفوي سلطنت رښتنی وارث وګانه، نو ځکه يې د نادر افشار په څېر زړور قومندان تر شا ودرېد، چي نه يوازې دی د هرات له ابداليانو سره په جګړه کي ښکيل و، بلکي د شاه اشرف پر وړاندې هم پوځی ډګر ته راووت.

له نادر افشار پرته د امام رضا د کورنی يو تن چي د ميرزا داود لمسی کېده سيد احمد کرماني وه، چي ځان يې د سلطنت وارث ګانه په دې پلمې چي ګني دی د سلطان سليمان زوم دی،ده هم د شاه اشرف پر وړاندې پاڅون وکړ او په کرمان کي د خپلواکی بيرغ اوچت کړ.

له دوئ نه پرته سلطان محمد خرسوار، صفي ميرزا (معصوم)، محمد علي رفسنجاني (ده هم ځان صفي ميرزا باله)، د ابراهيم زوي زينل او يو شمېر نور سيمه ييزه واکمنو هم د شاه اشرف د واک پر وړاندې اخ و ډب ته لاره اواره کړه.

۲- سيد فتح علي خان قاجار يو بل نامتو کس وه، چي په استراباد، مازندران او يو شمېر نورو سيمو کي چي د ځواک څښتن و، له شاه طهماسب نه خپل ملاتړ اعلان کړ. لومړی يې خراسان ونيو او بيا يې مشهد کلابند کړ.

۳- شاه اشرف پخپل مينځي نادرېيو کي دومره ښکېل شو، چي د شاه محمود د صدر اعظم او اعتماد الدوله امان الله خان پر وړاندې هم ودرېد.« ميانجي »يو بل نامتو افغان و، چي د شاه محمود هوتک د سلاکار او لاربښود په نوم نامتو و، تهديد کړ او شته يې ترې واخستل او ان خپل ورور يې ونيو او ړوند کړ.

) افغانان له پارس نه.....۳۸۳ مخ[۱]

) کروسنسکي ۱۲۲ مخ[۲]

) سيعد نفيسي تاريخ سياسي و اجماعي ايران ۲۹۵ مخ[۳]

) هانوي ۴۵۵-۲۵۴ مخونه[۴]


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ